# حَبلُ‌المـَتین (۸): په اسلام کې ورري د حجرات سورې په هنداره کې




حجرات د قرآن کریم یوه جالبه سوره ده، چې په مومنانو کې د ورورۍ په باب ډېر روزونکي پیغامونه لري. پر اسلامي نړۍ حاکم نني دردونکي سیاسي- فکري حالت کې، چې په پایله کې یې د اسلامي امت اړیکې ترینګلې او خرابې شوې، د حجرات سورې د پیغامونو تذکر ډېر اړین دی، تر څو یې امت پیغامونه جدي ونیسي او یو له بل سره په اړیکو کې د لارې د مشال په توګه ګټه ترې واخلي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

[الحجرات:۱۰]

***ژباړه:*** *یوازې مؤمنان یو د بل ورونه دي، نو د ورونو تر منځ سوله وکړئ او له الله څخه ووېرېږئ، تر څو رحم دربانديې وشي.*

دا آیت ډېر جالب ټکي لري، چې ځینې یې په لاندې ډول بیانوو:

«**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ** »؛ *یعنې په حقیقت کې مومنان یو د بل ورونه دي.*

هر قوم، ملت او ایډیولوژي په خپل منځ کې د ترېنت، نږدېوالي او علاقې ښودو په موخه عنوانونه او لقبونه د خپلو اړیکو لپاره تعریفوي، مثلاً کمونېستانو د خپلو همفکرانو لپاره د «رفیق» عنوان کاراوه، لکه څنګه چې هر ټولنیز پوړ له نورو څخه د بېلتون لپاره یو عنوان کاروي یا لکه عام وګړي چې هموطن، وطندار، هېوادوال، همولایتي، کلیوال او نور عنوانونه کاروي.

جالب ټکی دلته دی، چې الله سبحانه وتعالی د مومنانو د اړیکو لپاره یوازې یو عنوان تعریف کړی او دا اړیکې یې د ورورۍ تر بریده پورته بېولې دي او په دې وسیله یې یو ژور او نه شلېدونکی تړون د مومنانو تر منځ کړی دی. دا

د وروري تړون په اقتصادي، سياسي، نژادي، جغرافيايي، تاريخي او... مسايلو مشروط او محدود نه دی، بلکې له هر نژاد او هرې قبيلې څخه ټول د هرې ژبې او هر عمر مومنان پکې شاملېږي، که څه هم يو د نړۍ په ختيځ او بل يې په لوديځ کې وي. د دې وروري رمز يوازې د ايمان صفت په درلودو کې تعريف شوی دی.

په حقيقت کې د ديني، فکري او عقيدتي وروري پيوند له نسبي وروري او قومي پيوندونو څخه محکم دی. لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د مهاجرينو او انصارو تر منځ د وروري تړون وکړ. دا تړون ډېر محکم او له بې‌ساري ايثار او سربښندنې سره يو ځای و، چې حتی د ايثار بېلګې يې په نسبي وروڼو کې نه وينو. بايد له ياده ونه باسو، چې اخوت په مومنو ښځو کې هم شته.

پر دې سربېره اسلام مومنانو ته د وروڼو په خطاب پر ټولو هغو اړيکو د بطلان خط راکاږي، چې د قوم، نژاد، قبيلې، دولت ـ ملت، نشنلېزم، ملي هويت او نورو پر اساس ټينګې شوې او پر دغو لنډمهاله اړيکو وياړ هم حرام ګڼي. د سياسي واقعيت له نظره هم دا دروغجنې، موقتي او ژر له منځه تلونکې اړيکې د تاريخ په اوږدو کې د ډېرو سترو ستونزو د پيدايښت لامل شوې او په سلګونو ميليونه کسان يې وژلي. د بدمرغۍ ځای دا دی، چې په مسلمانانو کې د دې مبارکې او ژورې اړيکې ارزښت کمزوری شوی او پر داسې اړيکو يې منګولې لګولې، چې اساس يې ايمان او تقوا نه ده او پايله يې ذلت، خواري او په بې ارزښته مسايلو شخړه او کشمکش دی.

«**فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ**»؛ *نو د وروڼو تر منځ سوله وکړئ.*

د «**أخويكم**» کلمه د دوو وروڼو په معنی ده. نو کله چې دا يو تاکيد او دستور وي، چې تاسو د دوو وروڼو تر منځ سوله او روغه وکړئ، نو د نړۍ د ۱.۵ ميليارده مسلمانانو تر منځ د يووالي او سولې په اړه څنګه؟ چې نن تر ۵۰ په زياتو دولتونو – ملتونو وېشل شوي دي او يو د بل پر ضد مبارزه او جګړه کوي. بېشکه د ۱.۵ ميليارده مسلمانانو تر منځ د يووالي او روغې جوړې کار ډېر ارزښتمن دی.

پر دې سربېره دا آيت څرګندوي، چې کله د مومنانو تر منځ فتنه، آشوب او تفرقه پيدا شي، چې يو له بله د دوی بېلښت او لرېوالي لامل کېږي، مومنان بايد هڅه وکړي تر څو دا عوامل له منځه يوسي. همدارنګه هره مفکوره او حالت چې دا سوله او وروري ګواښي، بايد ريښې يې وايستل شي. که دا مفکوره وطنپالنه وي که ديموکراسي، قومي ارزښتونه وي که سمتي، جغرافيايي وياړونه وي که نژادي، ټول د امت د وحدت لپاره زهر ګڼل کېږي.

پاتې دې نه وي، چې دلته موخه يوه ځانګړې ډله نه ده، چې د مومنانو تر منځ سوله راولي، بلکې د قرآن مخاطب ټول مومنان دي او د دغه ستر کار لپاره ټول هڅې وکړي.

«**وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ**»؛ *له الله څخه تقوا ولرئ، تر څو پر تاسو رحم وشي.*

دلته تقوا او د الله سبحانه وتعالی د رحمت موضوع ته اشاره ده. په دې معنی چې پر مومنانو ټينګار شوی، چې تقوا غوره کړي او ځانونه له هغو افکارو، عاداتو، مفاهيمو او سياستونو وقايه کړي، چې دا يووالی له منځه وړي او مسلمانان تيت وپرک کوي.

د تقوا په پایله کې مسلمانان یو بل ته نږدې کېږي او دا یووالی او سوله د الله سبحانه وتعالی د رحمت لپاره مقدمه ده. هغه ټولنه چې هلته سوله، وحدت او تقوا حاکمه نه وي، د الله سبحانه وتعالی له رحمته محرومېږي. بېشکه د اسلامي امت ننی وخیم او دردناک حالت زموږ سترګو ته یو روښانه انځور ږدي، چې امت د بې اتفاقۍ، ړوندو تعصبونو، مصنوعي ـ تحمیلي پولو په سپېڅلي ګڼلو او په مختلفو هېوادونو او ملتونو د وېشل کېدو له امله د الله سبحانه وتعالی له رحمته محروم شوی او یووالی او د زړه خواله یې له منځه تللې. غرب له دغه حالته ګټه اخلي او هره خاوره یې په یوه بڼه سیاسي او نظامي ګرو کړې او داسې مفکورې یې وربانديې حاکمې کړې، چې یو بل دښمن وګڼي. افغان خپل پاکستانی ورور دښمن وګڼي، ایرانی د خپل عربي ورور د وینو تږی دی. ترکانو د کردي ورونو پر وړاندې د دښمنۍ بیرغ پورته کړی. د دولت – ملت نشنلېستي مفکوره د مسلمانمېشتو هېوادونو د جګړو او اختلافونو لامل شوې او دا هېوادونه یو د بل پر وړاندې د خپل مقام د پیاوړي کولو لپاره د وسلې اخیستو او د خپلو فوځیانو د تجهیز په لټه کې دي او په یو ډول تسلیحاتي سیالۍ کې ښکېل دي.
نو لازمه ده چې قومي ویاړونه، جغرافیایي او نژادي تعصبونه پرېږدو، پر ځای یې تقوا غوره کړو او د الله سبحانه وتعالی پر رسۍ منګولې ولګوو، تر څو د الله سبحانه وتعالی رحمت راباندې وشي او بیا د نړۍ رهبري تر لاسه کړو.

**مصدق سهاک**

**د حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر غړی**